شریف بهاند ۱۸ ، ۲ ، ۲۰۰۸

# د ډالر او یورو تر منځ پټه سیالي

( دریمه برخه )

### ۳ - پټرو یورو Petro - Euro او د پټرو ډالر Petro - Dollar تر منځ د سیالی پړاو:

د دویمي برخي له ارزوني دا پایله ترلاسه کېږي، چي متحدو ایالتونو له ۱۹۴۵ کال څخه د سړې جګړې تر پایته رسیدو پوري، د خپلي ایدیالوژی، اقتصادي زیرمو او پوځي ځواک له برکته د یوه نړیوال ځواک ځانګړتیاوې لرلي. متحدو ایالتونو د خپلي دغي برتري له امله څه نا څه د نړۍ پر نیمي کړي، چي په هغې کي هم ځواک په غیر مساوی توګه ویشل شوی و او لا دئ، واک چلوه او چلوی. نوموړی هیواد دغه ځواک نه یوازي د زور په بنسټ، بلکي د ټلوالي په پوهای سره ترلاسه کړی، دا هم یو لامَل دئ، چي ولی متحده ایالتونه دي ته اړ دي، د خپلي ټلوالي په وړاندې ځیني خدمتونه، د ساری په توګه د هغوي پوځي امنیت او د نړیوال بازار تنظیم، تر سره کړي. خو د وېلېم انګدال په اند، یو پانګه وال ځواک د خپلي ټلوالي په وړاندي دا ډول مکلفیتونه نه لري، هغه یو ځواکمن زوراکه دئ، چي د ټلوالي په مرسته یي د خپل ځواک د له منځه تلو مخنیوي وکړي شو او خپلي امپراتورۍ ته پراختیا ورکړه (وګورئ: Engdahl, F. William, ۲۰۰۳, Nr. ۱).

خو د سړې جګړې په پایته رسیدو سره او د یوې نوې واحدي اروپا او د دوي د ګډې پیسي (یورو) رامنځته کیدل، د امریکایي پیړی American Century له پاره یو ستره ننګونه (چلنچ) ده. په اروپا کي د اقتصادي او ارزی یووالی خیال د لومړی ځل له پاره د برټن ووډز Bretton Woods د مالی نظام له ماتي وروسته رامنځته شو. د المان پخوانی لومړی وزیر، ویلی برانټ Willy Brandt په ۱۹۶۹ کال کي د اروپا د ګډ بازار د غړو هیوادونو د مشرانو په یوه غونډه کي، چي د نیدرلند د دن هاګ Den Haag په ښار کي جوړه وه، د بَری د رپوټ Barre - Report پر بنسټ د یوې ګډې پیسي د رامنځته کیدو غوښتنه وکړه (وګورئ: Guérot, Ulrike, ۲۰۰٤, S. ۱). نو ځکه غونډې د لوکزامبورګ د پخوانی لومړی وزیر، پیری ویرنر Pierre Werner په مشری یوه کمیسیون ته دنده ورکړه، چي په دي تړاو څېړنه تر سره کړي. د نوموړی کمیسیون له څېړنو وروسته د اقتصادي یووالی او د یوې ګډې پیسي د رامنځته کیدو له پاره، خپل رپوټ وړاندي کړ.

د هغه پلان د نړیوالو مالي ستونزو له امله، چي د برټن ووډز Bretton Woods د ماتي په پایله کي رامنځته شوي وې، د عمل په ډګر کي پلی نه شو. د اروپا د ګډ بازار هغو غړو هیوادونو، چي د نړیوال وجهی صندوق غړي وو، د خپلو پیسو د ارزښت د ټینګاو (ثبات) په موخه د غړو هیوادونو د ارزونو له پاره د راکړې ورکړې (تبادلې) یو ټاکلی نرخ "Währungsschlange„ رامنځته، چي هغه د ډالر په وړاندي له ۱ ± تر ۲، ۲۵ ± په سلو کي د نوسان په حال کي و (وګورئ: Gabler Wirtschaftslexikon, ۱۹۹۳, Bd., ۸, ۳٦۹۳). د راکړې ورکړې له دغه سیستم څخه په ۱۹۷۹ کال کي د اروپا د ګډ بازار د شورا د پریکړې له مخي، اروپایي ارزي سیستم Europäische Währungssystem (EWS) رامنځته شو. په عین وخت کي د ارزي سیستم په ادانه (چوکاټ) کي د اروپا محاسبوی واحد، اکو ECU د ګډ ارز په توګه رامنځته او د ډالر په وړاندي یي ارزښت یو په یو ۱ ECU=۱$ وټاکل شو.

د اروپایي ارزي سیستم په مرسته له یوبخوا د اروپایي ارزونو تر منځه راکړه ورکړه ټینګه او د انفلاسیون دمخنیوي هاند و هڅه او له بیلي خوا د اروپایي ګډې پیسي د رامنځته کیدو له پاره شونتیا برابره شوه. د اروپا د ګډ بازار د دولسو غړو هیوادونو دولتي او حکومتي مشرانو په ۱۹۹۲ کال کي د نیدرلند د ماستریښت Maastricht په ښار کي غونډه وکړه او په هغې کي یي د دیلور Delors-Bericht رپوټ منظور کړ. د ماستریښت Maastricht د تړون په لاسلیک سره د اروپایي ټولني بنسټ کینښودل شو، چي د نورو لکه ګډ بهرنی، کورنی، امنیتي او عدلي سیاست تر څنګ، بنسټیزه ستنه یي د ګډې پیسي او ګډ اقتصاد رامنځته کول و (وګورئ: Maasteicht Vertrag, ۲۰۰۵).

دوي په همدې موخه د ۱۹۹۴ کال د جنوری په لومړې نیټه د اروپا د مرکزی بانک سیستم رامنځته او د اروپایي ټولني د غړو هیوادونو د ملی ارزونو د ارزښت د ورته والی او ټینګاو په موخه ځانګړي ارزي او مالي سیاستونه د

عمل په ډګر کې پلي کړ. همدا لامَل و، چې د اروپايي ټولنې له نيمايي څخه زياتو غړو هيوادونو د ۱۹۹۷ کال د جنورۍ تر لومړۍ نيټې د ارزونو د ارزښت د ورته والي ځانګړتياوې پوره او په دې توګه د ماستريښت Maastricht د تړون له مخې د ارزی يووالی بل پړاو يا په بله وينا د ۱۹۹۹ کال د جنورۍ په لومړۍ نيټه په محاسبوي سستيم کې له يورو څخه د ګډې پيسې په توګه ګټه اخيستنه پيل شوه او له دغې نيټې پوره ۳ کاله وروسته، ۱ . ۱ . ۲۰۰۲ يورو د اروپاپه ۱۷ هيوادونو کې د ملی ارزونو ځای ونيو او د هغې په چلند اچولو سره د نړيوالي سوداګرۍ او بانکي ارزي زيرمو په برخه کې د ډالر د برترۍ په وړاندې يو پوتنسيال سيال رامنځته شو (وګورئ: Guérot, Ulrike, ۲۰۰٤, S. ۱-۳).

د يورو په رامنځته کيدو سره د اروپايي ټولنې د مهمو هيوادونو دولتي او حکومتي او همدارنګه د دغې ټولنې د ځينو بانکونو مشران روسيې، چين، چاپان او په تيره د اوپک غړو هيوادونو ته په خپلو سفرونو سره هڅه وکړه، د نوموړو هيوادونو مشران دې ته وهڅوي، چې وروسته له دې د خپلو اومه او پخو توکو (توليداتو) راکړه ورکړه په يورو تر سره کړي او يا لږ تر لږه د خپلو بانکي زيرمو يوه برخه د ډالرو پر ځای په يورو واړوي. د همدې هاندو هڅو په ترڅ کې "د ۲۰۰۰ کال د نوامبر په مياشت کې فرانسې او د اروپايي ټولنې نورو هيوادونو د عراق ولسمشر، صدام حسين په دې قانع کړ، چې د متحدو ايالتونو په وړاندې مقاومت وکړي او د خوراکي توکو په بدل کې خپل تيل، د عراق په اصطلاح په دښمن ارز ډالر نه، بلکې يوازې په يورو خرڅ کړي (Engdahl, F. William, ۲۰۰۳, Nr. ۱).

د لندن بانک د يو پخوانی کارکونکی په اند، د عراق دغه کام " د ډالر په وړاندې د جګړې اعلان و" (Engdahl, F. William, ۲۰۰۳, Nr. ۱).

د پترو- ډالر په وړاندې د پترو- يورو دا ډول ګواښ هغه وخت لا نور زيات شو، کله چې د اوپک په سازمان کې د ايران يوه استازی، جاويد يارجانی د دغه سازمان د راتلونکی پلان په اړه، د ۲۰۰۲ کال د اپريل په مياشت کې د اسپانيې د اووېدو Oviedo په ښار کې جزئيات خپاره کړ. نوموړي ويلی و، چې " ... د اوپک سازمان به په نږدې راتلونکی وخت کې خپل تيل، په اروپايي ټولنې په يورو خرڅ کړي نه په ډالر" (Engdahl, F. William, ۲۰۰۳, Nr. ۱). سربيره پر دې د عراق له وروستي جګړې څو مياشتي مخکې داسې کونګوسې هم تر غوږه کيدې، چې د اوپک يو شمير غړي او د ځينو نورو هيوادونو لکه روسيې، ايران، اندونيزيا، ونزويلا ... مرکزي بانکونه به په زياته پيمانه ډالر نړيوالو بازارونو ته وړاندې کړي. د پترو- ډالر په وړاندې همدا ګواښونه وو، چې متحدو ايالتونو تر ټولو ساده لار غوره او "په لوی لاس يې د عراق جګړې ته لمن ووهله او د هغې لامَلونه يې رامنځته کړل، چې مخکې له مخکې د اوپک د سازمان نورو غړو او د نړۍ پاتي هيوادونو ته مرګګوني اخطارونه ورکړي، هاند و هڅه و نه کړي، د پترو- ډالر سستيم، د هغه سستيم په ګټه، چې د يورو پر بنسټ ولاړ وي، له منځه يوسي" (Engdahl, F. William, ۲۰۰۳, Nr. ۱). د عراق له نيواک څخه وروسته د نيويارک او لندن د سترو بانکونو مشران څه نا څه ډاډمن شول او د هغوي له ډلې څخه يو تن وويل، چې " موږ اوس بايد د يورو له خوا د رامنځته شوی لعنتي ګواښ څخه کومه انديښنه و نه لرو" (Engdahl, F. William, ۲۰۰۳, Nr. ۱).

له پورتني ارزوني دا پايله تر لاسه کيږي، چې واشنګټن په زياتيدونکی توګه د يورو سيمه، تر ټولو دمخه "زړه اروپا" او په هغې کې هم ايتاليا، المان او فرانسه د خپلې هژمونی له پاره يو بنسټيز ستراتيژيک ګواښ بولي. نو ځکه د متحدو ايالتونو دولت په دې هڅه کې دئ، هغه څه چې نور د اقتصادي وسايلو په مرسته نه شي ترلاسه کولي، د خپل پوځي ځواک له لارې لاسته راوړي. داسې برېښي چې ستر ځواکونه د تيرو تجربو پر بنسټ تل په دې ټينګار کوي، چې سياسي، اقتصادي او پوځي ځواک دې يو د بل په خدمت کې وي. ځکه: "پوځي ځواکمنتيا نه شی کيدی بې له اقتصادي برترۍ پايښت ومومي او د پانګه والی نظام تر شرايطو لاندې اقتصادي برترې په خپل ذات کې ناپايداره ده" (Jürgen, Wagner, ۲۰۰۳, S. ۳۸). اروپايي ټولنې دغې سکالو ته په پام سره هم هڅه کړې، خپل پوځي ځواک پياوړي کړي.

په پوځي چارو کې د المان يوه پخوانی چارواکی، داکتر والتر شتوتخله Dr. Walther Stützle د اروپايي ټولنې د سياسي او پوځي اړيکو په اړه د ۱۹۹۹ کال د جون په ۲۸ نيټه يوه کنفرانس ته په خپلې وينا کې دغې اړتيا ته په نغوتې سره داسې ويلی: " ... يوه ټولنه چې له ځانه دفاع و نه شي کړی، هغه ټولنه نه ده. يو پياوړي ارز چې ځواکمن دفاعي ځواک ونه لري، د اوږدې مودې له پاره به ځواکمن پاتی نه شي" (Pflüger, Tobias, ۲۰۰۳, S. ۷۱). د همدې لامَل پر بنسټ و، چې د اروپايي ټولنې دولتي او حکومتي مشرانو د دغې ټولنې د بهرنيو چارو له مسؤل، خاوير سولا څخه غوښتنه وکړه، د اروپا د دفاعي ستراتيژۍ په لاسوند (سند) کې دغې سکالو ته ځانګړې پاملرنه وکړي. نوموړی په دې تړاو ليکی: " يوه خوځنده اروپا به هغه وخت اغيرمنه وي، چې په نړيواله کچه کړه وړه تر سره کړي شي. ځکه بنسټيزه موخه دا ده، چې اروپايي ټولنه د نړيوال ځواک په توګه رامنځته شي" (Pflüger, Tobias, ۲۰۰۳, S. ۷٦).


افغان جرمن آنلاین شما را صمیمانه به همکاری دعوت می نماید. لطفاً به آدرس ذیل با ما تماس بگیرید
maqalat@afghan-german.de

خو لکه څنګه چې د متحدو ایالتونو د ملی امنیت په ستراتیژی کې راغلي، د دغه هیواد نوي محافظه کاران، له خپل ولسمشر څخه غوښتنه کوي، چې "... په پام کې ولری، هیڅ یوه بهرنی ځواک ته اجازه ور نه کړي، هغه ستره برترې، چې متحدو ایالتونو له سرې جګړې وروسته پر هغې برياليي شوي، ترلاسه کړي" (Jürgen, Wagner, ۲۰۰۳, S. ٤١).

له پورتني شنني او د ځانګيز څيرونکو له څيرونو دا پایله تر لاسه کيږي، چې د پترو- ډالر او پترو- یورو تر منځه سیالي د عراق په جګړه کې پيل شوه. د مسرت Massarrat په اند د عراق د جګړې لاملونه د نورو تر څنګ:

- د تیلو پر راکړې ورکړې، ونډې او بيې اغيز ترلاسه کول؛
- د سعودی عربستان په ورلندي د یوه بدیل رامنځته کول او د منځنی ختیځ د تیلو د تولیدونکو هیوادونو تر منځه د سیالی پیاوړی کول؛
- په خپل پوځي ساتندویه ځواک پورې د اروپايي ټولنې، جاپان او نورو هغو هیوادونو، چې د تیلو زیات لګښت لرې، د ترلتیا (وابستګی) ساتل او د هغې لا پیاوړی کول؛
- او په پای کې له یورو سره په نړیواله کچه د سیالی له پاره د پیسو د بنسټيز واحد (کلیدی پولی واحد) په توګه د ډالرو له لا زیاتي کمزورتیا څخه مخنیوي، و (وګورئ: Massarrat, Mohssen, ۲۰۰۳, S. ١).

که څه هم متحدو ایالتونو او بریتانیا د عراق په جګړه کې ظاهری بری ترلاسه کړی، خو سره د هغه هم ډالر، د پیسو د بنسټيز واحد په توګه د سیال ارز، یورو په وړاندي خپل ارزښت له لاسه ورکوي. لاندنی جدول دغه ادعا په ښه توګه روښانه کوي.

د ډالر او یورو د راکړې ورکړې تر ټولو لوړ او ټیټ ارزښت

| کال | تاریخ | ترټولو تیټ ارزښت | تاریخ | ترټولو لوړ ارزښت |
|---|---|---|---|---|
| ۱۹۹۹ | ۳.۱۲. | ۱.۰۰۱۵ | ۵.۱. | ۱.۱۷۹۰ |
| ۲۰۰۰ | ۲۶.۱۰. | ۰.۸۲۵۲ | ۶.۱. | ۱.۰۳۸۸ |
| ۲۰۰۱ | ۶.۷. | ۰.۸۳۸۴ | ۵.۱. | ۰.۹۵۴۵ |
| ۲۰۰۲ | ۲۸.۱. | ۰.۸۵۷۸ | ۳۱.۱۲. | ۱.۰۴۸۷ |
| ۲۰۰۳ | ۸.۱. | ۱.۰۳۷۷ | ۳۱.۱۲. | ۱.۲۶۳۰ |
| ۲۰۰۴ | ۱۴.۵. | ۱.۱۸۰۲ | ۲۸.۱۲. | ۱.۳۶۳۳ |
| ۲۰۰۵ | ۱۵.۱۱. | ۱.۱۶۶۷ | ۳.۱. | ۱.۳۵۰۷ |
| ۲۰۰۶ | ۲.۱. | ۱.۱۸۲۶ | ۵.۱۲. | ۱.۳۳۳۱ |
| ۲۰۰۷ | ۱۲.۱. | ۱.۲۸۹۳ | ۲۷.۱۱. | ۱.۴۸۷۴ |
| ۲۰۰۸ | ۲۱.۱. | ۱.۴۴۸۲ | ۱۴.۱. | ۱.۴۸۹۵ |

اخځ: http://de.wikipidia.org/wiki/Euro

د نورو ارزونو په تيره د يورو او د سرو زرو• په وړاندې د ډالر د ارزښت دا ډول را ټيټيدل د نړۍ مالي او سوداګريز بازارونو له سترو ناراميو سره مخامخ کړي دي. دغه حالت د دې ښګارندوی دئ، چې اوسمهال د نړۍ ستر ځواک د اقتصادي ودې بنسټ ډاډمن نه بريښي. لامَل يې دا دئ، چې د دغه هيواد د مالي وسايلو لګښت په دا وروستيو کلونو کې په غير توليدي سکتور په تيره پوځي برخه کې زيات شوی دئ. د بيلګې په توګه له نړيوالي ترهګرۍ سره په مبارزه، په تيره د افغانستان او عراق د جګړو لګښت په دې وروستيو شپږو کلونو، ۲۰۰۲ - ۲۰۰۸ کې ۶۰۰ .۱ ميليارده ډالره شوی، چې هرې امريکايي کورنې ته ۹۰۰ .۲۰ ډالره رسي (وګورئ: Der Spiegel, Nr., ۴۸, ۲۰۰۷, S. ۷۴ ). د وسله واليدو په برخه کې هم د متحدو ايالتونو دولت اتل دئ. د ستکهلم دسپيرې د انستيتوت Stockholmer Sipiri - Institut د محاسبې له مخې، په ۲۰۰۶ کال کې د نړۍ هيوادونو د وسله واليدو له پاره ۲۰۴ .۱ بيليونه امريکايي ډالره لګښت کړی دئ، چې له دغه ټوليز لګښت څخه د متحدو ايالتونو برخه ۵۲۸ ميليارده ډالره يا په بله وينا۴۶ ٪ کې (وګورئ: Berliner Zeitung, Nr. ۳٤, ۲۰۰۸, S. ٦) د بريتانيا هغه ۵ ٪، د فرانسې ۵ ٪، روسيې ۳ ٪ ، او د چين ۴ ٪ وه. لاندنی جدول د نړۍ د بيلا بيلو هيوادونو د وسله واليدو لګښت لا په ښه توګه روښانه کوي:

د نړۍ د ځينو هيوادونو د وسله واليدو لګښت
شمېرنې په سلمه

| ګڼه | هيوادونه | لګښت |
|---|---|---|
| ۱ | متحده ايالتونه | ۴۶ |
| ۲ | بريتانيا | ۵ |
| ۳ | فرانسه | ۵ |
| ۴ | ايتاليا | ۳ |
| ۵ | المان | ۳ |
| ۶ | د ناټو نور غړي هيوادونه | ۸ |
| ۷ | چين | ۴ |
| ۸ | روسيه | ۳ |
| ۹ | سعودي عربستان | ۳ |
| ۱۰ | هند | ۲ |
| ۱۱ | د نړۍ نور هيوادونه | ۱۵ |

اخځ: Berliner Zeitung, Nr. ۳٤, ۰۹./۱۰, ۰۲. ۲۰۰۸, S. ٦

له پورتنيو شېمرنو دا ترلاسه کيږي، چې د متحدو ايالتونو پوځي لګښت د نړۍ د نورو سترو ځواکونو په پرتله په څو څو ځلې زيات دئ، په داسې حال کې چې د دغه هيواد ملکي صنايع نه شي کولي د امريکايي وګړو د اړتيا وړ توکي دننه په هيواد کې توليد او هغوي ته وړاندې کړي. نو ځکه بايد لګښتي توکي له بهره هيواد ته راوارد شي، چې پايله يې د سوداګرۍ د بيلانس کسر دئ. دغه کسر په ۱۹۹۳کال کې ۷۰ ميلياردہ ډالره، په ۲۰۰۳کال کې ۴۹۷ ميلياردہ ډالره او تير کال څه نا څه ۷۶۰ ميلياردہ ډالره و، چې دغه ونډه د کورني ناسوچه توليد له ۵ ،۶ ٪ څخه زياته برخه جوړوي (وګورئ: Der Spiegel, Nr., ۴۸, ۲۰۰۷, S. ۷۵-۸٦). د دې تر څنګ د جورج بوش د ولسمشرۍ په پړاو کې د دولتي پور ونډه هم له نهه بيليونو ډالرو زياته شوې ده. سربيره پر دې د دغه هيواد د بودجې د بيلانس کسر هم اوسمهال ۲۵۰ ميلياردو ډالرو ته لوړ شوی، په داسې حال کې چې هغه په ۲۰۰۰کال کې ۲۳۶ ميلياردہ ډالره مازاد درلود (وګورئ: Der Spiegel, Nr., ۴۸, ۲۰۰۷, S.۷۵ ). داسې اټکل کيږي، چې د بودجې دغه کسر به په ۲۰۰۸ کال کې ۴۰۰ ميلياردو ته لوړ شي. دغه ټولې پورتنې يادې شوې ستونزې د دې لا مَل شوې، چې ډالر خپل

• د روان کال د جنورۍ د مياشتې په لسمه نيټه د سروزرو د هر سوچه انس (۳۱.۱ ګرامه) بيه ۹۰۰ ډالره وه (وګورئ: Berliner Zeitung, ۲۰۰۸, S.۱۱) . په داسې حال کې چې د تيرې پيړۍ د اومې لسيزې په پيل کې د هر سوچه انس سرو زرو بيه څه نا څه ۳۵ ډالره وه.


افغان جرمن آنلاين شما را صميمانه به همکاری دعوت می نمايد. لطفاً به آدرس ذيل با ما تماس بگيريد
maqalat@afghan-german.de

ارزښت له لاسه ورکړي. دغه حالت د سیمه ییزو سیالو ځواکونو تر نیوکو او د دښمنو هیوادونو د خوښي او خندا وړ شوی دئ.

پاتي نور بیا


افغان جرمن آنلاین شما را صمیمانه به همکاری دعوت می نماید. لطفاً به آدرس ذیل با ما تماس بگیرید
maqalat@afghan-german.de